UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتیژیکو اړیکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان

مطبوعاتی بیانیه

http://unama.unmissions.org

**د عمومی منشی بیانیه د هغه د ویاند له خوا د افغانستان د ولسی جرګی د پرانیستلو په اړه**

عمومی سرمنشي د افغانستان د ملي شورا د ولسي جرګې د ننني پرانیستنې هرکلی کوي چې د ولسمشر حامد کرزی تر مشری لاندی تر سره شوه.

دغه پرانیستنه د ټاکنو د بهیر پای او د یو داسې پړاو د پیل څرګندونه کوي چې په هغه کې د افغاني دولتي اداري باید سره په ګډه کار وکړي څو هغه سترې ستونزې حل کړی چې افغانستان ورسره مخ دی، اختلافات شاته کړي لکه چې ځواکمنه او خوځنده ولسواکلي یې ایجابوي.

عمومی سرمنشي د ولسمشر کرزی زمامداری تصدیق کوی او د هغه غوښتنه د یووالی لپاره چې د افغانانو په ګټه ده ملاتړ کوی په داسی حال کی چې نوې پارلمان خپلی دندي بیا له سره پیلوي. هغه بر سیره پر دی د افغان سیاسي مشرانو او ټولو هغو کسانو چې د ټاکنو په بهیر کې یې ګډون درلود- د رایه ورکوونکو، ټاکنیزو موسسو، ګټونکو او ګوندونو، پاتې راغلیو نوماندانو د هغې ونډې ستاینه کوي چې د افغانستان د دموکراتیکې پرمختیا په لار کې یې ترسره کړې ده.

Strategic Communication and Spokespersons Unit
United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA)
Kabul, Afghanistan Tel: 079 000 6121; +39 083 124 6121

http://unama.unmissions.org
Subscribe online to ensure you receive news from UNAMA.